مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندۀ مضمون میباشد، عقیدۀ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

عبدالغفور لېوال ٢٠٢٣/٠٨/٢٩

# سياسي چال و نيرنګ، خدعه و فريب او دين

يوه وويل :
«هرڅوک چې ټچ تيليفون لري، مؤمن نه دی!» قطعي فتوا.

بل وويل:

«غاټ کاپر اپلاتون موسی (ع) ته وويل...» د تاريخ او علم په اړه پوهه.
بل وويل:

«د کراماتو په زور که سړی په امريکا کې وي، دلته خپله ښځه بلاربولای شي.» ښخرته خرافات.

بل وويل:

«د خور و لور ښوونځي و پوهنځي ته لېږل موردهګاوي ده، دووسي (ديوث) ده، فحاشي ده...» د پوهې و پوهنې په اړه تعصب.

بل وويل:

«په پلاني ځای کې چې مو بېګناه افغانان وژل حضرت... يې قوماندان و...»

دين د سياسي وسيلې په توګه کارول.

ولس دا هرڅه واورېدل، چا ورته له سادهګۍ وژړل، لوستيو يوازې وخندل، لکه يوه ټوکه يې چې اورېدلي وي. لوی اکثريت يې په وړاندې بېتفاوته پاتې شو.

ټول پوهيږو، چې دا ټول درواغ دي. موږ ته پېړۍ ـ پېړۍ داسې دروغ ويل شوي، خو موږ يې هيڅکله له رېښتيا سره د بېلولو او توپيرولو هڅه کړې نه ده.

موږ له دې درواغو سره دوه ډوله چلند کړی، يا مو د داسې درواغو له کبله ټول ديني متون درواغ ګڼلي، خو د تکفير له وېرې مو ځان غلی کړی دی، چې دا هم زيانمن حالت دی، يا مو ټول درواغ رېښتيا ګڼلي او بارو مو پرې کړی، ځکه د دين له منبره راته ويل شوي دي. دا افراط و تفريط دواړه يو د دين او بل د علم په زيان تمام شوی دی.

يا ځکه بې تفاوته پاتې يو، چې بديل باور يا علمي بديل مو رامنځته کړی نه دی.


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکني د ليکنيزې بنې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولـئ

موږ سلګونه کاله کيږي، چې له بېتفاوتۍ سره عادت شوي يو. ربړه دا نه ده، چې دا خبرې وشوې، موږ وژړل، يا وموخندل، يا بېتفاوته پاتې شو. ستونزه دا ده، چې همدغه تفکر واکمن دی. ولس د همداسې تفکر تر تور هيولا لاندې ځګيروی کوي. ملت د داسې باور يرغمل دی.

تر دې ټولو منبرونو لاندې سلګونه خلک ناست وو او دا هرڅه يې اورېدل. چوپ وو، او پر منبرونو ولاړو يا ناستو ويناوالو باور درلود، چې د دوی خبرې منلې کيږي. د ناستو خلکو چوپتيا دوی ته جرئت، جسارت او سپين‌سترګي ورکوي، چې نور وړاندې ولاړ شي او داسې ښکرور درواغ ووايي، چې خره وخندوي، خو لاندې ناست وګړي به لا هم چوپ ناست وي.

هغوی چې په دين يې زړه سيزي، ولې داسې معتبره دينپوهه مؤسسه نه‌رامنځته کوي، چې د داسې درواغو مخه ونيسي او اجازه ورنه کړي، چې سياسي چارچلند تر دې زيات د دين اصالت ته زيان ورسوي؟

زه چې وايم، د افغانستان ستونزه فرهنګي ده، يو دليل يې دا دی، چې سياسي چال و نيرنګ، خدعه و فريب په دين ورګډ شوي او څوک يې مخه نه نيسي.

خلک د دين تر پوښښ لاندې درواغ، خرافات، خدعه او تېرايستنې مني او دين ورو ورو تر دې درواغجنو سياسي چلندونو لاندې ځپل کيږي.

د دين په نامه زرګونه ښکرور درواغ د علم په وړاندې درول شوي دي، خلک د تکفير له ويرې درواغ مني او علم تر پښو لاندې کوي، په داسې حال کې به ټولنه او ملت څنګه د ډوډۍ، کار، توليد، پرمختګ او هوساينې مخ ووينې؟

**ويښتيا، روښانتيا او بدلون**



افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له رااليږلو مخکې په ځير و لولـئ